مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سلطان جان کلیوال

۲۰۲۱/۱۱/۲۷

# ضرورت

ســتړی کړی دی حالت یم ، یـو بـدلـون ته ضـرورت دی
شوه د عشق کیسه بې خونده، بل مضمون ته ضرورت دی

خـصـلـتـونه بدل شــوی، مـشــران ژاړي هــدیـرو کــې
چې خرڅ نه شــي په پردیو، دي پښتون ته ضرورت دی

په خـنــدا خـنــدا چـې دارته ، وي روان د حــق د پـاره
د منصورغوندی بل مست ته، بل مجنون ته ضرورت دی

چې کړې لاري سـیده کړي، د پیریـو کـوږ کـاروان ته
یـو لاربـنـود ته ضرورت دی، یـو سمون ته ضرورت دی

د آدم «ع» لـه زمـانې نـه، د نیــکی او بــدی جـنـګ دی
چې کړي بیلې دا لـښـکرې ، یـو بیلتون ته ضرورت دی

یـا چـې دا دښـمـنـې ډلې، ســره کــیـږدی حــق ته غــاړه
یو **ښـوونځی** ته ضرورت دی، **پوهـنتون** ته ضرورت دی

کلیـوال چـې انسـان جوړشـي او شـي بیـل له ځـنـاورو
یـو **(قـلـم)** ته ضرورت دی، **(کتابتون)** ته ضرورت دی

نومبر/۲۴/۲۰۲۱
ایجکس – تورنتو - کاناډا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ